# دنخست (لمړی ) په نوم ورځپاڼې د دریولویدیزو هیوادونو دلاسوهنو په هکله د افغانستان دراتلونکی کابینی دغړودټاکلو په اړه پرده پورته کړه !

دانټرنیټ دفارسی سرچینو څخه
ژباړونکی: عزیزاحمد خوارمل

دافغانستان دهیواد په پلازمینی کابل کې دنخست (لمړی ) په نوم ورځپاڼې د سه شنبی په ورځ ولیکل : دامریکا ،انګلیس اودفرانسی دهیوادونولخوا دافغانستان دټاکل سوی جمهور ریس حامد کرزی د دوهمی نوی راتلونکی کابینی دپاره دغړو دټاکل کیدو په اړه دوړاندیزونو دری جلا جلا سر ترلی دوسیی وښاغلی کرزی ته وړاندی کړسوی دی .

ددغی ورځپاڼې دلیکلوپربنسټ :تردا اوسه پوری دری ځلی دراتلونکی نوی کابینی دغړونیولیک(فهرست ) دافغانستان په اوسنیو چاروکې ددغو دریوبرخه لرونکی هیوادونو لخواترڅیړنی اومطالعی لاندی نیول سوی اوبیادغه نیولیک دافغانستان د دولت مشر ته ورکول سوی دی .

ددی ورځپاڼې په حواله ، امریکا ،انګلیس اوفرانسه هغه دری هیوادونه دي چې وحامد کرزی ته دافغانستان دراتلونکی نوي حکومت دترکیب اوجوړښت په هکله یې وړاندیزونه کړی دي .

دنخست (لمړی ) ورځپاڼه په دی هکله،دافغانستان وجمهور ریس حامدکرزی ته دیوی نږدی سرچینی په حواله ولیکل: دغه دری ګونی هیوادونه دحامدکرزی دبری داعلان راوروسته مشخص اوسرترلی دوړاندیزونو دوسیی یې چې په هغه کې دنوې کابینی دترکیب اوجوړښت ،اودطالبانوددډلی سره دروغی اوجوړی دطرحی او وړاندیز،داداری فساد په وړاندی دمبارزی کولوپرډول اومیتوداودیوی روغی اوسالمی حکومتی اداري پرچارو اوکړنوباندی وښاغلی کرزی ته وړاندیزونه اوطرحی ورکول سوی او وړاندی کړسویدی .

دغه دکابل چاپ خپرونه په دی هکله زیاتوی : درسنیو ټول هغه ږغ ،ږوغ او اوازی چې ددغولویدیزوهیوادونودمشرانو واکمن اوپریکړنده خبری یې رامنځته کړی دی ، ددغو

وړاندیزونودپلی کولو په خاطر سره دی چې همدا اوس دکرزی دکار پرمیز باندی ترکارلاندی نیول سویدی .
دغی ورځپاڼی ددی سرچینی په حواله چې دنوم داخیستلواونوم ښودلوڅخه یې ډډه کړی ده په دی اړه لیکی : تردا اوسه پوری دری ځلی دنوې کابینی دغړواودراتلونکی نوې حکومت دنوېوجګپوړوچارواکواو لوړومقاماتو لمړنې نیولیک (فهرست) ، دکرزی سره په ټول ټاکنوکې دهم دریځو،هم هوډواوهم تړونو،کورنۍ سیاسی محورونوپه موافقی سره اودلویدیزوالوتر فشارلاندی ترکتنی لاندی دغه دنوې کابینی دغړو لمړنې نیولیک (فهرست) جوړسوی دی.
دغه رپوټ ورکوونکی چارواکی که څه هم دنورجزییاتودبیانولوڅخه یې ډډه کول بیایې هم دا ډول څرګنده کړه ،دهغو کسان په اړه چې حامد کرزی ترخپل نظرلاندی نیول دی دحامد کرزی په راتلونکی نوې کابینه کې کابو اتیافیصده (۸۰٪) غړی به یې نوی څیری وی.
دغه خپرونه ددی مطلب په ادامه ورکولوسره لیکی : دلندن ،پاریس او واشینګټن دا دری سرتړلی دوړاندیزونودوسیی یودبل سره په تضاد او توپیر کې سره قرار لري چې دنمونی اوبیلګی په ډول سره دفرانسی دهیواد په وړاندیزسوی سرتړلی دوسیی کې دیو مخصوص اوجلا ارګان او ادراې دجوړیدواورامنځته کیدوغوښتنه سوی ده ،چې دوړاندیز په متن کې دهغه څخه دیو خاص وزارت تر سرلیک لاندی نوم اخیستل سوی دی .
ددی سرتړلی وړاندیز پر بنسټ ، یوخاص وزارت رامنځته کیدل دی چې دپینځو(۵)کلیدی اوبنسټیزو وزارتونوپه راس کې دیو خاص وزیر تر امر لاندی به دغه وزارتونه کار وکړی ، چې ددی وړاندیز په متن کې دجمهور ی ریاست دټول ټاکنوپه دوهم پړاوکې دکرزی دسیال دډاکټر عبدالله عبدالله څخه ودی پوست ته دیومناسب کس په توګه نوم اخیستل سوی دی.
دنخست (لمړی ) ورځپاڼی لیکی : اما دانګلیس په سرتړلی وړاندیز سوی دوسیه کې دفرانسی دپورتنی متن په پرتله متضاداوتوپیرلرونکی متن لیدل کیږی او لندن عملآ په خپل وړاندیز کې دطالبانودګډون څخه دافغانستان دراتلونکی سیاسی نظام په جوړښت کې خپل ملاتړ یې په ډاګه کړی ده اوپه نوی کابینه کې دیوشمیرهغوکسانودنه برخی اخیستنی اودګوښه کیدوغوښتنه هم سوي دي کوم هغه څیری چې په ټول ټاکنوکې یې دحامدکرزی نه یې ملا تړ کړی وو.
ددی ورځپاڼی دلیکلو پر بنسټ دانګلیسانودوړاندیز په متن کې راغلی دی چې دطالبانو دګډون بهیر په راتلونکی سیاسی جوړښت کې دطالبانودمنځنۍ قوماندانانواودمنځنۍ
مشر انودیوشمیر کسانو په برخه اخیستنی سره به پیل سي او په بل پړاوکې به ددی ډلی دلمړیو کسانوپه برخه اخیستنی سره به په حکومتی چاروکې ونوی ته حکومت ورګډ کړل سي.
دغه افغان ورځپاڼی ددی موضوع په اړه زیاتوی : کرزی په ښکاره توګه دانګلیس ددی وړاندیز اوطرحی سره دراتلونکی دولت په سیاسی جوړښت کې دطالبانودګډون سره مخالف دی او کرزی ویلی دی لندن په خپل دی طرحي سره غواړی چې جهادی مشران او دمجاهدینوبا نفوذه څیري زما څخه لیری کړی . اودغه مسله لا مختته ترمخه څخه معلومه ده چې دمجاهدینوجهادی مشران

اودطالبانومشران به په هيڅ ډول سره ديوميز ترشا دوزريرانو دشورا په جلساتوکې يودبل سره به نه کيښيني .
ددی ورځپاڼې دليکلوپربنسټ: دافغانستان د واک په معادلاتوکې ددی لوبې ډېر مهم لوبغاړه دامريکا هيواد ده چې خپله هغه سرتېرلی وړانديزيې وکرزی ته وليږله ،او پرتکنوکراتوځيريوباندی يې ټينګار کړی دی.
امريکا ددی سرتېرلی وړانديز ترڅنګ ديو شميرنورو کړنو دعملی کيدو اواجرااتوغوښتونکی هم سوی ده ،ځکه سپينه ماڼۍ غواړي چې دنوی راتلونکی حکومت په جوړښت کې دوزيرانواو دنورو لوړ پوړو مقاماتو په ځای پرځای کولو کې مهم اوعمده رول و لوبه وي اووي لري .
دپورتنی ورځپاڼې په وروستنی برخه کې په ښکاره ډول سره ليکل سويدی : دافغانستان دحکومت داوسنی کړکيچ بنسټ دکرزی دسياسی ګټو تضاددی چې زيار باسی ترڅوخپل پلويان په راتلونکی دولت اوحکومتی جوړښت کې وساتی او دخپلو لويديزملګرو دسياسی ګټو دخوندی ساتلوپه خاطر چې دهغوی موخی دکرزی دسياسی واک اواختيار محدوده کولو اوترخپل نظرلاندی راوستل دی ،چې يو داهسی جوړښت به رامنځته کيږی . /

اخيځليک: دقطره نيوز څخه .